## ډله ییز مهاجرت

له هېواد نه بهر د خلکو ډله ییز خوځښت چې د کورنیو او بهرنیو جګړو او یا د بشري حقوقو د سیستماتیکو سرغړونو له امله منځ ته راغلی وي.

دری: [مهاجرت جمعی]

## ډار

هغه حالت دی چې کوم شخص یا ډله د خلکو په منځ کې د ډار او ویرې د رامنځته کولو په مقصد په ځینو داسي اقداماتو لاس پورې کړي چې قانون هغه مجاز نه ګڼي.

دری: [تخویف]

## ډاك

هغه قاصدان دي چې د پستې مراسلاتو په سرته رسولو مؤظف وي.

دری:[داک]